AIC

اطلاعاتو ته د لاسرسي کميسيون

د دارالانشاء عمومي رياست

د بشري سرچينو آمريت

د کارمندنې لارښود

*دغه خبرتيا وروسته له لوستلو ، لاسليک او د سوانح فورم او خپل تحصيلي اسنادو سره تسليم کړئ.*

اطلاعاتو ته د لاسرسي کميسيون له ټولو هغو متقاضيانو څخه چې د دارالانشاء رياست (فوق رتبه بست) په رقابتي ګمارنه کې ګډون کوي، غواړي چې لاندې لارښوونې په جدي توګه په پام کې ونيسي.

۱) محترم متقاضيان کولای شي د بست کاري لايحه اطلاعاتو ته د لاسرسي کميسيون له ويبپاڼې (aic.gov.af) او يا د اداري اصلاحاتو کميسيون له ويبپاڼې څخه تر لاسه کړي، خپل د سوانحو لنډيز (CV) د ټاکل شوي وخت ختميدو څخه مخکې د خپلو تحصيلي اسنادو سره مل، چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا تأئيد شوي وي، د کميسيون اړوندې څانګې ته تسليم او يا هم لاندې ذکر شوي ايميل ته واستوئ، که چيرې رسمی دنده لرې خپل د سوانحو لنډيز چې له شپږو مياشتو زيات وخت پرې تير شوی نه وي، که غير رسمی دنده لرئ خپل د کار قرارداد، او دکارکولو تصديق چې په اقتصاد وزارت، اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او يا هم نورو دولتي ادارو کې ثبت وي، اړوندې څانګې ته تسليم کړئ.

۲) هر غوښتونکی چې د ګمارنې په لړۍ کې د واسطې او يا د اعمال نفوذ څخه کار واخلي، د دې بست په رقابتي لړۍ کې د ګډون څخه محروميږي.

۳) درنو متقاضيانو تحصيلي ډيپلوم يا تصديق بايد د لوړو زده کړو وزارت تأئيدي ولري، پرته له دې د بل هيڅ پوهنتون او عالي تحصيلاتو مؤسسې تصديق پاڼه، ستاينليک او سرتيفيک د منلو وړ نه دی.

۴) هغه تحصيلي اسناد چې د ۱۳۷۱ څخه تر ۱۳۸۱ کلونو په منځ کې صادر شوي، د ۱۳۸۵/۲/۱۴ نيټې د ۱۸۸ شميرې مکتوب پر اساس د لوړو زده کړو وزارت بيا کتنې ته اړتيا لري.

۵) له پولې بهر تحصيلي اسناد، د دې تر څنګ چې د لوړو زده کړو وزارت د تأئيدۍ تکميل اسناد بايد ولري، لازمي ده چې د اکاډميکو چارو د انسجام رياست تأئيدي هم ولري.

۶) له پولي بهر فارغ التحصيلانو مؤقتي اسناد که د لوړو زده کړو وزارت لخوا تأئيد شوي وي د اعتبار وړ دي، مشروط پر دې چې مخکې له مصاحبې به خپل تحصيلي اسناد د ذيصلاح ادارو له لارې بشپړوي.

۷) له هغه ځايه چې د خصوصي لوړو زده کړو رياست د خصوصي لوړو زده کړو مؤسسو له ثبت او راجستر څخه تصديق کوي، هغه متقاضيان چې د خصوصي لوړو زده کړو مؤسسو څخه فارغ شوی، نو بنايي چې خپل تحصيلي اسناد لوړو زده کړو وزارت د خصوصي لوړو زده کړو رياست کې تصديق کړي.

۸) هغه محترم متقاضيان چې په دولتي ادارو کې رسمي دندې لري او يا يې مخکې دندې درلودې، خپل د سوانحو لنډيز دې په يوه پاڼه کې د خپل دندې اړوند وروستۍ دولتي ادارې د لومړي واحد لخوا تأئيد او د نورو اړتيا وړ اسنادو سره مل، کميسيون ته تسليم کړي، هغه د سوانحو لنډيز چې د دوهمو اداري واحدونو (ولايات) لخوا صادر شوي وي، پرته د لومړي واحد (مرکز) له تأئيد څخه د اعتبار وړ نه دي.

۹) هغه محترم متقاضيان چې به معتبرو نړيوالو ادارو کې يې کار کړی، خپل اسناد او کاري سوابق دې د هماغې ادارې د بشري سرچينو څانگې له تأئيد وروسته د قرارداد له کاپي سره يو ځای کميسيون ته تسليم کړي.

محترم متقاضيان دې د اسنادو د تسليمۍ پر مهال پاسني موارد جداً په پام کې ونيسي، د خپلو اسنادو کاپي چې تسليموي بايد روښانه او د لوستلو وړ وي، پرته له دې به د دوی اسناد ناقص ارزيابي شي او د اسنادو له تسليمۍ وروسته هيڅ ډول اسناد په جلا توگه د منلو وړ نه دي.

په شرايطو برابر کسان دې خپل اسناد دغه ايميل ([najibullah1.haqyar@gmail.com](mailto:najibullah1.haqyar@gmail.com)) ته راوليږي او يا دې پخپله اطلاعاتو ته د لاسرسي کميسيون د بشري سرچينو آمريت ته د قلعه فتح الله شپږم سړک، څلورم شميره کور ته مراجعه وکړي. همدا راز کولای شي د نورو معلوماتو لپاره په دې شميره ۰۷۸۹۶۰۵۹۷۳ اړيکه ونيسې

په درناوي